انجنیرسید عبدالقادر


۰٤ جون ۲۰۱۱

## لوي کندهاره !

زمـــا ښـکلـي کندهـا ره غلیمـان د ي سـوزوي
دشپیه خـواږه خـوب کي مـاشـومان دي قتـلوي

زخمي بدن چی ستا وینم پر سر مي سره لمبه سي
داوښکو پـر ځـاي سترګي مي بیــا ویني تـویـوي

بـي وســـه درتـــه ګـــورم پـه قلـم دي یـادومـه
ژرمیدان ته بل میرویس که چی وطن مو ورانوي

د میوند توره راواخله بل ایوب تي په لاس ورکه
هـم ملالــه راپــیدا کـه چی نښـان دي وســاتــي

نیژدې دتیرو لسو کلونو په څیر بیا هم امریکایي پرغلګر ځواک دمي پر ۲۸ مه نیته دشپي له خواه دهلمند ولایت دنوزاد دښکلي ولسوالي د ولس څخه یي دخپلو وحشیانه بمباریو له کبله چی دځینو رسنیو په حواله د ۱۴ څخه تر د۵۲ پوري دماشومانو ، میرمنو ، ځوانانو او زړو څخه دخپلو ناپاکو مخو له پاره ددوي خوږ ژوند واخیست ، اود توله کلي پاته ولس بیدیو ه لوي ماتم سره مخامخ کړل ۰ هغه ماشومان چی دشپي دخپلو میندو دمیني او محبت څخه ډکو تودوغیږو نو کي دماشوم توب په خواږه خوبونو کي لاهو وه ، او دا پاک ماشوم توب ددوي څخه دا توانایی اخستي وه ، چی دخپل غلیم په هکله هم څه نا څه فکر وکړي ، او دځان ژغورني له پاره یوه هڅه و کړي ۰ ولي دا ماشوم توب به ودوي ته هروخت داسي فهمول ، چی تاسو د پاک خداي داسي یو بي ازاره مخلوق یاست چی هر څوک به تاسي د یوه ښکلي ګل په څیر په خپل غیږ کي نیسي ، او دناز په څپو کي به مو ښکلي کوي ۰ ځکه نودا ماشومانو به هره شپه بیله کوم تشویشه دخپلو میندو دمیني او ترحم پرپاکو لي ځوباندي دخپل ماشوم

توب دخيالونو په ډکو خوبونو کي داسي لاهو وه ، چی ددنيا دهرڅه څخه يي ځانونه ليري خوندي ساتليوه ۰ چی دشپی نا ببره ديرغلګرو تر هوايي بمباريو لاندي راغلل، او ددوي هرڅه يي ور نابود او ددوي خوږ ژوند يي دکورني دنورو غړو سره يو ځاي ځيني واخيست ، او دغليمانو له خواه په شهادت ورسيدل ۰ او دا پاک ماشومان ددې څخه ناخبره وه ، چی زموږ پر وطن داسي يو نړيوال مستکبير لښکر يرغل کړی دي ، چی وخپلو ناپاکو مخو ته درسيدو له پاره ، نه يوازي لوي او ماشوم په ډيره بيرحمي سره په شهادت رسوي ، بلکه خداي (ج)ورکړي طبيعت يی ، هم دنابودي سره مخا مخ کوي ۰ چی دا حقيقت زموږ ولس نيژدې په تيرو لسو کلونو کي په خپلو سترګو ليدلي دی ، چی شنه باغونه ، ښکلی ځنګلونه دمنځه وړي ، او دوطن ډيره برخه مو ددوي په يورانيمي بمبونوباندي داسي ککړه سوي ده ، چی په راتلونکي وختونو کي به ددې پاک کاري دافغانانو دتوانايي څخه يو وتليکار وي ۰ او ددوي داعمل دنړيوالو ټولو قبول سووقوانينو خلافيو ښکاره عمل دي ، چی بايد دملګرو ملتونوتر جدي پوښمني لاندي راسي او ددې غرامات بايد ورکړي ۰په داسي حال کي افغانان دملګرو ملتونو دسازمان څخه داسي يوه حقوقي غوښتنه کوي ، چی په اوس مهال کيداسازمان دامريکا او غربي نړي دبهرنيو پاليسيو يوه ښکاره پولي کوونکي اداره بلل کيدلايسي ۰ بايدووايو چی کرزي صاحب دپورتني بمبارد پهاړوند دا ځل دېخواه په څير نه بلکه يو څه په تنده لهجه دنا ټو دځواکونو پر ادرس باندي دري ورځي مخکي په يوه خبري کنفرانسکي خبرتيا ورکړه ، او وي ويل چی دا به ستاسو وروستني ځل وي ، چی دشپي له خواه عمليات کوي ، او په پايله کي زموږ بي ګناه خلک په شهادت رسوي۰ ولي د ناټو ويلند دډيپلو ماتيکي شيوو څخه په ليري فاصله کي او دتکبر څخه په ډکوالفاظو وويل ، چی دشپي له خواه دعملياتوددريدو پريکړه يوازي زموږ په رهبري پوري اړه لری اوبس ۰ ولي کرزي صاحب ددوهم ځلدپاره ديوه خبر يال دپوښتني په ځواب کي وويل ، که وروسته تر دې بهرني ځواکونه دشپيله خواه عمليات تر سره کړي ، نو بيا به دابهرني ځواکونو ته ، اشغالي ځواکونه وويلسي ، او دوي ښه پوهيږي چی افغانان داشغالي ځواکونو سره څه کوي ۰

او دا هم بايد ووايو چی دناټو دجنايتونو لړی به نوره هم تر هغه وخته زموږ په وطن کي روانه وي ، تر څو چی دوي دناکامي وکندې ته نيژدي يا لويږي ۰او دا به هغه وخت وي ، چی دوي دجنګ په ډګرکي خپله اقتصادي توانايي دلاسه ورکړي ۰ چی عملاً دا متکبر ځواک په اوس مهال کي ديو داسي چيلنج سره مخامخ دي ۰ او افسوس دا چی کرزي صاحب دهر مقصد له پاره چی وبيو غبرګون ښکاره کوي ، ولي په افغانستان کي هغه ملي او ډموکراتيک سياسي اواجتماعي سازمانونه په وطن کي دڅو کلونو ديرغلګرو دهر بشري او اقتصادي جنايت دترسره کولو په وړاندي دچپتيا لاره غوره کړي ده ۰ نوآيا په ډيره نيژدې راتلونکي وخت کی (تر اشغالوروسته) به بيا دا سازمانونه دولس په وړاندي کومه دبرآت پانه دځانه سره ولرياو که نه ؟ چی ودې پوښتني ته دوي بايد نه يوازي په جديت سره وګوري ، بلکه ژر تر ژره بايد دملي ګټو په نظر کي نيولوسره ديوه ريښتني ځواب په لټه کي سي ۰

تمت بالخير